# دافغانستان ملي سينما دپيل اوبشپړتيايي بهيرلنډ جاج

## ليکونکي : عبدالوکيل سوله مل شينواري

افغانستان ته دسينما راتگ دافغانستان دمترقي پاچا امان الله خان دواکمنۍ له دورى سره تړلي دي کله چې نوموړی داروپا له اوږ ده سفره راگرځی ،دهيواد دښيرازۍ په ډيروپلانونو کې يې ددغه هنرغوړيد وته هم ځای ورکوی،په دی برخه کې يې دپغمان دسينما جوړيده لومړنۍ هڅه گڼلی شو.

خوپه افغانستان کې دملي سينمايي توليدا توپيل په ((مينه اوملگرتوب)) نومي فلم پيليږی. په ۱۳۲۵ هجري لمريزکال کې دافغاني تياترځني لوبغاړی اواستادان لکه نشاط ملك خيل ، عبدالرحمن"بينا"،احمدضيا،ابراهيم"نسيم"دليکوال اوډرامه ليکونکي عبدالرشيد"لطيفي"په مشرى د(مينه اوملگرتوب)له سناريوڅخه دفلم دجوړيدو په موخه هندوستان ته ځي، له څه مودې وروسته دغه لومړنی افغاني فلم له هيوادنه بهرپه بهرنيوستوډ يوگانواو لابراتوار ونو کې دبهرنيوفني کارکونکوپه مرسته چمتواوآماده کيږی. فلم په همدي کال سمدستي نندارې ته وړاندې او له ښه هر کلی سره مخامخ کيږی خود افغانانوله ښه هرکلی سره ،سره بياډيرکلونه دبل فلم دجوړيدوهڅه ونشوه اوزموږدملي سينما دتوليدپه لارکی څه ناڅه دوه لسيزې هيڅ چاره نه ترسره کيږي.

له ۱۸،۱۷ کلن ځنډ وروسته ايله په ۱۳۴۳ کلونوکې بيا سينمايي توليداتوته دوخت دچاروالکو ځانگړواماتوروسينماپالوپام رااوړي په همدغوکلونو ۱۳۴۳هجري لمريزکې دمطبوعاتوپه رياست کې دعکاسۍ اوفلمبردارۍ څانگه پرانستل کيږي چې په ۱۳۴۴هجری لمريز کال په ځانگړی اوخپلواك ارگان اوړی .دنوموړواداروپه مرسته له آمريکانوی راگځيدلي ملي سوداگراوفرهنگي فيض محمد(خيرزاده ) د(عقاب په

ځیر) دهنری مستند فلم په جوړیدوتوا نیړی . چې له دې فلم وروسته بیا د(۵) کلونوپه بهیر کې هیڅ هنری افغانی فلم نه جوړیږی خوپه دغوکلونو کې دیوې ملي سنمایي هستې دجوړیدوله پاره په دولتي اوغیرې دولتي کچه د پام وړاقدامات پیلیږي !

- دسینما پوهنی د کورسونوتاسیس .
- بهرته د سینما پوهنی په چاروکې د تحصیل بور سونه .
- له بهرنیانوسره ددوی په ځینومستند واوهنری فلمونوکې دافغانی لوبغاړو برخه اخیستنه ددې اقداماتو بیلګې دي.

د(عقاب په ځیر)پنځه کلونه وروسته (۱۳۴۷) کې دلومړې ځل له پاره پخپله په افغانستان کې په بشپړه معنا افغانی هنری فلم د(روزګاران ) په نوم جوړ یږی

دافلم چې د دریو لنډوفلمونو : طلبګار، دجمعې شپه او قاچاقبران ، مجموعه ده دفلم ټول برخه وال تخنیکي همکاران ، لوبغاړی سناریستان اودایرکتران افغانان دي .

روزګاران دافغاني ملي سینما دپیل ویاړنه لری،خودرنګه هنری افغاني سینمایي بهیر پیلامه یي ګڼلی شو. له دي فلم وروسته په لنډه موده کې په ۱۳۵۲ کې بل هنری فلم (روز های دشوار) په نامه جوړیږي .

پنځوسمه لسیزه زموږ دسینما په تار یخ کې نه یوازي له دې بابته ځانګړي باب جوړوی چې په اوږدوکې یې پرله پسې سیستماتیکي هستونی ددغه وخت داقتصادي اوفرهنګي ناخیزوامکاناتوپه پرتله ډیردی بلکي دګڼوسینمایي فلمونولکه (رابعه بلخي ۱۳۵۲)،(مجسمه هامي خندد ۱۳۵۵)،(سیاموی اوجلالئ)،(غلام عشق)،(جنایتکاران ۱۳۵۸)،ترڅنګ په کې ښه شمیره سینمایي تولیدي مرکزونه(نذیرفلم ۱۳۵۲،آریانافلم ۱۳۵۴،یاسین فلم ۱۳۵۷ ،شفق فلم ۱۳۵۸،

گلستان فلم ۱۳۵۹) جوړيږی اوهريوپه خپل وارخوراخو ند و راوښا يسته فلمونه جوړوي.

د ۱۳۵۷هجري لمريزکال راپه دي خواه چې دهيوادپه نوربرخوخپله ټاکونکی اغيزه شيندي زموږدملي سينمالوری اوپرمختك هم تراثرلاندی نيسي داپرمختك په افغانی سينما يي توليداتوخورامثبته اغيزښندي اودملي يسنمايي توليداتوپه پروسه کې نه يوازي لازم پرمختك کيږی،بلکي دافغاني ملي سينمادجوړيدواودملی سينمايې توليداتوپه پروسه کی نه يوازې لازم پرمختك کيږی،بلکی دافغانی ملی سينمادغوړيدوهڅی کيږی نوی سينمايي مرکزونه پرله پسې جوړيږی هماغسې دننه اوبهرپه دې برخه کي دسينما مينه والوته دزده کړی پوره زمينه برابريږی، په همدی کلونوکې چې زموږدملي سينما ځينې فلمونه په بين المللی فستيوالونوکې ننداري ته وړاندي کيږي اويوشميرفلمونه جايزی هم خپلوي. دثورد غميزي دلومړيوکلونويوه ځانگړنه زموږدملي سينمالپاره دښتو تلويزيونی اوسينمايي فلمو نودجوړيدوهڅه اوپرمختك دي. په ۱۳۵۷، ۱۳۵۸ کلونوکې د(ثورانقلاب )مستندفلم د (بنگ مسافری)تلويزيونی فلم يې ښې بيلگې دی ،خوله بده مرغه اوس دغه دواړه فلمونه لادرکه ښکاری ،(دثورانقلاب هغه) لومړنی مستند فلم دی چې لوبغاړی يې پخپله ددغه انقلاب برخه وال لکه پخپله حفيظ الله امين اونوردي له دی کلونوورسته دافغاني سينماپه تاريخ کې(۶۰) لسيزه دخپلوتوليداتوله مخي ځانگړی ځای لري په دی لسيزه کې نه يوازي ځانگړي سينمايي مرکزونه په خپل وارفلمونه جوړوی،بلکې افغانفلم هم په يومجهز سينمايي مرکزاوړی اوپه سيستماتيکه توگه ډير هنری اومستندفلمونه جوړوي خوله ډيره بده مرغه ددغو فلمونولويه برخه دسياسي وچوشعارونوپه لوموکې ښکيل کيږی اوله ډيروفلمونوهنري اوښکلاايزجوهرتوږي اوداسي فلمونه ښايي ددغوکلونو(۷۰)فيصده جوړ کړي خوهغه فلمونه چې له سياسته ليری اوپاك دي خوراښه فلمونه دی اوترډيره به خپل

مینه وال هم له لاسه ورنه کړی : جنایتکاران ،خانه پنجصدوپینجاوپنج ،مردهاراقول است،اخترمسخره ،حماسه عشق،سایه ، نقطه نیرنگی اوځیني نور....

هغه فلمونه دی چې تردېره به خپل مینه وال ولری. په دغوفلمونوکې ځینی فلمونه ځینو سیاسینوعمدی اوقصدی جوړکړی ، خوځینی فلمونه بیاداسي هم دي چې دولتی چارواکو پري ځیني زیاتونې اوکموني تپلي ، یوه بیلګه یې دغلام عشق فلم دی.

سرله دی ټولوخبرو(۵۰)او(۶۰)لسیزه زموږدملي سینماپه جوړیدوکې ټاکونکی ونډه لری.

دنجیب الله دحکومت په له منځه تلو سره زموږدملي سینماړنګیدوته هم متی رابډوهل شوی اودمجاهدینوپه ټوله واکمنۍ کې ځودګوتو په شمارفلمونه :(عروج،دکوځوسرګردان)اویو ځوتلویزیونی فلمونه جوړشول. خوطالبانونه یوازي دسینمایي فلمونوپه جوړیدوبلکې د سینما اوتلویزیون په ننداره یې هم بندیز ولګاوه.

له ښه مرغه په بهرکې د دغه هنرخوا خوږوافغانانوزموږملي سینمایي روان کاروان په ځای ونه دراوه اوپه دغو ځوکلو نوکې لږ وډیرسینمایي اثاررامنځته شول چې ځینویي معتبروبین المللي فستیوالونوته هم لاروميندله: رویا،حادثه،په پردی وطن کې، دآورنځاګر ،عشق پیری،ماته ،بي لاري هجرت، وصال ،عصیان ،شیرآغا اوشیرین ګل ، سپیني ایرې ،دهغوفلمونونومونه دي چې ټول له افغانستانه بهردکډوالوسینماګرانوپه مټ جوړاوچمتو شوی دي دطالبانوړنګیدنې دافغانستان دملی سینماپه خوزښت اودرنښت هم ستره اغیز وشیندله،په دغوکلونوکې افغانانوپه خوراخونداودرنګ ښه فلمونه لکه:

اسامه،خاك وخاکسترجوړکړل اولادغه لړۍ روانه ده . لکه دحسن مخملباف ،دقندهار سفر ،بایسکل ځغلوونکی،دمجیدمجیدی( باران)،دحسن یکتاپناه(جمعه)،دسمیرا(مخملباف)،(پنج عصر)،اودمایکل وینتزباتم(په دې نړۍ کې)،یې ښې بیلګې دی. وروستي درې کلونه زموږدملي سینماپه تاریخ کې خوراروڼ باب جوړوی،اوس نه یوازی زموږ دملي سینمایي بهیردبشپړ ۹تیااوغناله پاره هره ورځ نوی مراکزجوړیږ،بلکي د(اسامه) وروسته زموږملي سینمانړیوالي سینماته هم لارمومي .همدااوس خاك اوخاکستر(اسکار)ته کاندید دی اوځینی نورفلمونه لکه(نیلوفرپه باران کې)له نویوفستیوالونوځینی دجایزودخپلولوپه هڅه کې دی هیله ده داهڅې همداسی تاندې او ښیرازی وی.

@@@

عبدالوکیل سوله مل شینواري :

## زموږ ملي تیاتر او لوړې ژورې

هسي خو د ډرامې ریښه لکه دنورو هیوادونو په شان په افغانستان کې هم لرغونو زمانو ته رسي ، خو دعصري او نني تیاتر درواجولو لپاره دلارې جوړول دآمیر شیر علي خان په واکمنۍ پیلیږي ،دی هغه لومړنی ټولواك دی،چې خپل دربارته دټوکیانو او مسخره چیانو له لارې ډرامه ننباسي ، له دې وروسته ورو ، ورو له دربار بهر دعصري ډرامې او تیاتر لپاره هم ځینې تیاتر ته ورته هڅې په کار اچول کیږي .

له درباره وتلي ځینې مبتدي ټوکیان او مسخره چیان دخپلو کالیو په بدلولو او دځینو ځناورو دڅیرو په اغوستلو تر ډیره زموږ دولس بنداروڼه تاوده ساتي .

ددې ټوکیانو لومړنۍ هڅې په ( ۱۲۸۵ ) هـ ل کې ځه زور اخلي د دوي له ټولو مشهوره ډله د (( ساییین ))ټوکیان چې مشري یې د( برات قناد ) په غاړه وه ، په ډیره لنډه موده کې په کابل کې خورا مشهوریږي .

په برات قناد پسي دويم سړی چې اولسي تياتر ته دغوره چوپړه برخمن دی ( جبار رنګمال ) نوميږي .

جبار رنګمال دهغه زمان ټوکې او لوبغاړی دی چې دوخت دمسخره چيانو او ټوکيانو فعاليت د اداري او نظم لاندي راولي ، دهمده تدبر او نوښت دی ،چې دنني تياتر دوجود زړی شيندل کيږي .

<u>طالع همګان</u> هغه لومړنۍ ډرامه ده،چې دده په لارښوونه په کابل کې ښوول کيږي ، دغه لوبغاړی چې کله دخپلو ننداړو ښه هر کلی ويني ، دستي په لاهورۍ دروازه کې يو سرای اجاره کوي او په ګڼو ننداړو دکابليانو پاملرنه ځانته راړوي .

پيريان ، ديوان او دپخوانيو شاهانو ځيني روايات اونکلونه يې دډرامو مضمون جوړوي ، دمرحوم بريښنا له قوله : ((سلطان محمود او څلورغله ))، دده ترټولومشهوره ننداره ده.

ددې سره سره چې برات قناد او له ده لږ وروسته جبار رنګمال دعصري ډرامې په لور لومړني ګامونه پورته کوي .خو دافغاني معاصر تياتر اصل بنسټ له استقلال وروسته دافغانستان دمدبر او مترقي ټولواك امان الله خان په لارښوونه کيښودل کيږي .

دهمدغه مدبر پاچا په لارښوونه په ( ۱۳۰۱) هـ ل کې دلومړي ځل لپاره په پغمان کې دتياتر د يوې عصري ودانۍ کار پيل او په ۱۳۰۲ هـ ل کې پاي ته رسيږي دامان افغان داخبار له مخې (( خوب او ويښتيا )) يې لومړنۍ ننداره ده خو دځينو نورو پوهانو له نظره د (( داندلس فتح او سقوط )) يې لومړنۍ ډرامه ګڼله کيږي .

له دې ډرامې وروسته په وار سره د (( دنټل محاربه )) چې ښځينه رول يې ديوې انګريزې ميرمنې په غاړه و . (( اجباري واده )) ،(( اخلاقي خبرې ))،(( بي تربيه هلك )) ،(( هغه زلمي چې اروپا ته ځې )) او ځينې نورې

www.sikaraam.com

.... په دغې ودانۍ کې ننداريې ته وړاندي کيږي . ددغو ډرامو ځينې لکه : داندلس فتحه او سقوط او استقلال په هرات کې هم ډرامې کيږي .

هرات دافغانستان هغه يواځينی ولايت دی چې دپغمان تياتر سره سم يې په کار پيل کړی دی ، او ددغه تياتر په څير ګڼې لنډې او اوږدې ډرامې : (( پخوانۍ او اوسنۍ زده کړه )) ، ((دپخوانۍ او اوسنۍ زده کړې پايله )) او نورې يې دهرات دميرزاجان په باغ کې ننداريې ته وړاندې کړي دي .

خو دامان الله خان دواکمنۍ په ړنګيدو دکابل اوهرات ټول ډرامه يز بنسټ لکه دافغانستان نور بنسټونه ړنګيږي او بيا ښه پوره ډيره موده دتياتر او ډرامې نوم څوك په خولې نه اخلي .

ايله څه کم دوه لسيزې وروسته چې مرحوم استاد سلجوقي دوخت د مطبوعاتو مستقل رئيس شي بيا دهنر دغې برخې ته پام رااړوي ، او په کال ۱۳۲۲ کې په کابل کې رسماً دپوهنې ننداره پرا نستل کيږي .

ددغه ستر او کلتور ي ګام په اوچتولو کې هريو عبدالرشيد لطيفي او استاد عبدالغفور بريښنا لويه برخه اخلي .

سره له دې چې په پوهنې ننداره کې ډرامې په څه ناڅه عصرې بڼه پيل کيږي خو دانندارې دمعاصر تياتر د ډيرو ځانګړنو او مناسب مکانه بې برخې وې : تياتري ننداري تر ډيره وخته داستقلال ليسې د کنفرانسونو په تالار کې ننداريې ته وړاندې کيږي .

دپوهنې ننداريې لومړنۍ ننداره (( ميراث نوميده چې مرحوم عبدالرشيد لطيفي يې ليکوال او غوث الدين رسام يې لارښود دايرکتر و.

هغه نندارې چې د ( ۱۳۲۲) په موده کې په پوهنه ننداره کې ښوول شوې ليکوالان يې دا دي :د محمد عثمان صديقي ، ((عاطفه)) ،دمحمد ناصر غرغښت ((زوم )) دعبدالرحمن پژواك ((دکبابی شاګرد )) دعبدالرشيد

لطيفي (( اوه رنګونه ))، دعبدا لغفور بريښنا ((اشتباه)) دعبدالروؤف بينوا ((کار داهليت له مخې )).

عبدالرشيد جليا ، عبدالرحمن بينا، عبدالطيف نشاط ، ملك خيل ، غلام محمد شاکر ، محمد اکرم نقاش ، محمد يعقوب مسعود ، احمدضياء او استاد بيسد هغه لوبغاړي دي چې ددغو ډرامو اوننداړو په ښوولو کې دښه چوپړ وياړ ورپه برخه دی.

همغسې چې دکابل دېغمان تياتر سره سمدستې په هرات کې ډرامه يزې هڅې پيل مومې ،همداشان دکابل دپوهنې ننداړې له جوړيدو دوه کلونه وروسته په هرات کې هم بيرته د د ډرامې عنعنه ژوندۍ او په غورځنګ راځې دهرات ننداړې دفعاليتونو هڅې نه يواځې په هرات کې راايساريږي ، بلکې ډير ژر کابل ته هم راغزول کيږي .

په ۱۳۲۸ هـ ل کې له هراته دښاغلي محمد علي ذره په مشرۍ دلوبغاړو يوه ډله کابل ته راځي او په کابل کې ځينې ډرامې : (( پښيماني )) ،((خپلواکې ))، د(( دناموس قرباني )) ننداړې ته وړاندې کوي .

په کابل کې ډرامه يز فعاليتونه ورو، ورو پراخيږي او له پوهنې ننداړې څوکلونه وورسته نورې ننداړې لکه : مرستون ننداړې ۱۳۲۶ هـ ل ، ښاړې ننداړې ۱۳۲۷ هـ ل ، علم وجهل ۱۳۲۸، هـ ل ،يوه په بله پسې زموږدملي ډرامې په غنا کې برخه اخلي .

له هغې ورځې چې غلام محمد ((فرهاد )) دښاري ننداړې امتياز د مطبوعاتو له مستقل رياست اخلي ، په کابل کې ټولې ننداړې ((پوهنه ننداره )) ،(( مرستون ننداره )) ، (( ښاړې ننداره )) په خپل وار سره ښې حماسې او تاريخي ننداړې دتياتر مينه والو ته وړاندي کوي.

(( ميرويس خان )) ،(( ابوعلي سينا )) او ځينې نړيوالې ډرامې (( ملنګ دپيرانګ په ځيره کې )) او يا د موليړ تارتوف يې غوره بيلګې دي.

په ۱۳۳۴ هـ ل کې چې د ښځو دآواز په وړاندي لا ډیر خنډونه نه وي لیري ، دښځو تیا تر بنسټ د (( بهار ))تیاتر په جوړولو کینوول کیږي .

ددې تیاتر لومړنی لوبغاړی ، دسارا ، ژیلا او عذرا په نومونو درې خویندې دي ، چې څه موده وروسته یې مرستې ته نسرین ، نجیبه نوروتن او دینا هم وردانږی او له دغو خویندو سره یو ځای په ګڼو نندارو کې برخه واخلي .

په ۱۳۳۴ هـ ل کې زموږ دملي ډرامې په بډاینه کې دوه لوي ګامونه پورته کیږي .

لومړی ګام دښاغلي محمدعلي رونق په وړاندیز او نوښت دتیاتر لپاره دیوې ودانۍ جوړول دي او بل په همدغه کال دتیاتر د دوه کلن روزنیز کورس شروع ده ، چې دواړه په خپل وار زموږ دملي ډرامې په بشپړتیا یې بهیر ښې اغیزې پریباسي .

دتیاتر دلومړني کورس استاذان زموږ دملي فرهنګ دغه وتلي استازي محمد علي رونق ،استاد بریښنا ،عبدالغفور روان فرهادي ، ضیا قاریزاده ، فرخ آفندي او نورو زموږ دملي تیاتر د ډیرو نامتو لوبغاړو : مشعل هنریار(( اختر پیکر )) . درحیم سیر ،ظاهرصدیقي ، سرور خنجی)) په روزنه کې خورا پوره زیار ګالي .

دافغانستان دملي تیاتر په بشپړتیایې بهیر کې ۱۳۳۶کال هم ځانګړی ځای لري . په همدغه کال کې انجنیر علي رونق دنړیوالې ډرامې خورا غوره نمونې ژباړې اوبیایې د ډایر کت چارې هم په خپله غاړه اخلي ، هغه ډرامې چې دی یې په دې کال په ژباړلواو ډایرکت توانیږي : دفرانسې د نامتو لیکوال مولیر : مظلوم میره ، اجباري طبیب ، موسیو دو پروسوناك ډرامې دي.

په همدې کال زموږدملي ډرامې په تاریخ کې یو بل ښه ګام پورته کیږي ، او هغه د((زینب ننداره ))رامنځته کیدل دي چې دوخت دمیرمنوټولنې مشره میرمن زینب سراج یې داجازې اوفعالیت امتیاز اخلي ، سره له دې چې ددې ننداري ټول لوبغاړي میرمنې وي ،خوننداري له یوې مخې سید مقدس نګاه کښلي اوډایرکټ کړي دي .

په ۱۳۳۷هـ ل کې دپوهنې ، ښاري ، میرمن اومرستون ننداري ترڅنګ بله ننداره ((لښکر ننداره )) هم په کابل کې سر راټوکوي . ددې ننداري مسوول دهیواد ښه لوبغاړی او ډایرکټر وزیر محمد نګهت چې دنورو ګڼو وتلو لوبغاړو ترخوا ګڼې ننداري دهیواد د وسله وال پوځ منسوبینو ته وړاندي کوي.

په دغو کلونو کې له یوې خواکه خورا نامتو بهرنۍ ډرامې ژباړې او ډرامې ته چمتو کیږي ، له بلې خوا دې یو کال ۱۳۳۸ وروسته زموږ دملي تیاتر دغنا او نورو هیوادوالو د ډرامه یزو تجربو نه دګټې اخیستنې په موخه زموږ هیواد ته دپخواني شوروي اتحاد دوه تنه دتیاتر ماهرین : شمس قیاموف او محمدیاروف چې لومړي یې دډرامو په ریژه کولو او دویم په موزیك ډایرکټرۍ کې زموږ د نندارو له کارکوونکوسره د دوي په چاروکې ښه پوره مرسته کوي راځي.

د دوي دواړو په لاربښوونه په همدې کال (۱۳۳۸) هـ ل کې سمدستي دتوفیق الحکیم نامتو ډرامه(( په زړه کې بنده ګولۍ )) چې ښاغلي لطیفي ژباړلې وې ،ننداري ته وړاندي کیږی.

سره له دې چې په ۱۳۳۶ـ ۱۳۴۰ کې د ډرامو دښوونې خوندهسي نه وي .خو بیا هم په ۱۳۴۰ کې زموږ دملي هنر د غوړیدو لپاره یوه نوې اداره (( دښکلو هنرونو موسسه )) چې په خپل وار دډرامې ، موسیقۍ ، مجسمې جوړونې دوه کلن کورسونه پلي کوي ، جوړیږي .

په ۱۳۴۱- ۱۳۴۲ کلونو کې ددې موسسې دمشر فیض محمد خیرزاده په مشرۍ دوه نړیوال شهکارونه دتتس ویلیامیر (( ښیښه یې نانځکه )) او دیو جې اونیل د((نارون په پښو کې هوس )) ننداري ته وړاندي کیږی.

په همدې کلونو کې زموږ دملي تیاتر په تاریخ کې یوه بله نادره پیښه کیږي او هغه دلومړي ځل لپاره په کابل کې دپښتو تیاتر پیلامه ده ، په ۱۳۴۲ کې دنورو ګڼو ډرامو ترڅنګ په کابل ننداره کې دقهرمان په نامه پښتو ډرامه ننداري ته وړاندي کوي .

قهرمان چې له درې ژباړل شوې ډرامه وي ، استاد نظروف یې دلارښوونې چارې په غاړه لري ، او صایمه مقصود ، ف فضلي ، محبوب رشیدي یې غوره لوبغاړي جوړوي. داهغه ډرامه ده ،چې دوخت صدراعظم ډاکتر یوسف یې له ننداري وروسته جوړونکي ته سل زره افغانۍ جایزه ورکوي .

په ۱۳۴۲هـ ل کال کې داستاد نظروف د روسیې دمشهور لیکوال ارستروفسکي اثر(( بې ګناه ګنهکاران )) ژباړي او د ډایر کت چارې یې هم په خپله غاړه اخلي . ترهغې چې دا دوه تنه بهرني استادان په افغانستان کې وي، دتیاتر چارې خورا ښې پرمخ رواني وي ، خو کله چې دغه استادان بیرته خپل هیواد ته ستنیږي ، دتیات

ر فعالیت او کار هم څه ناڅه په ټپه ودریږي .

سره له دې چې استاد نظروف له تګه وروسته بیا هم زموږ دملي تیاتر دتنظیم لپاره بل استاد رحمت الله ایف کابل ته راځي خو زموږ ملي تیاتر له هغه دمه غورځیدلی وی کوم چې داستاد نطروف په وخت کې و .

رحمت الله ایف په خپل وار زیا ر باسي چې ځینې ډرامې ننداري ته چمتو کړي ، خو هلي ځلې یې هومره ښه ثمر نه ورکوي . دده په موجودیت کې ځینې ډرامې لکه : ((هغه مې پلار نه دی )) ننداري ته تیاریږي خو یوه یې

هم بريالی او دليدونکو زړونو ته لا ر نه مومي . دده په وخت کې تر ټولو ښه ډرامه دروسيې دکلاسيك ليکوال ګوګول مشهوره ډرامه (( مفتش )) وي چې دنندارچيانو له ښه هر کلی سره مخامخ کيږي .

ددې لپاره چې تياتر او ډرامې بيرته خپل پخواني شان او مقام ته ورسيږي او تياتر په ټپه نه وي دريدلی پوهنه ننداره په ښکلو هنرونو کې ادغام شوه او دواړه اداري په کابل هنري موسسه ونومول شوه خو دغې چارې هم زموږ دملي تياتر دښه کيدو لپاره کومه ګټه ونه کړه او پايله يې ښه نه وه . ځکه ددغو دواړو ادارو ترمنځ دګډ کار روحيه ورځ په ورځ خرابيده ، له دې بابته په ۱۳۴۵ هـ ل کال کې د کابل هنري موسسه لغوه او پر ځای يې دکلتور رياست جوړ شو .

دکلتور رياست خپل کار له لومړي سره دتياتر د دوه کلن کورس له جوړيدو پيلوي ، دغه کورس له خورا ډيرو مراجيعينويواځي شل تنه انتخابوي او په دووکلنوکې د ډرامې دهنر په ډيرو خبرو يې پوهوي،دکلتور درياست په موجوديت کې سره له دې چې زموږ ملي تياتر له خپله زوره وليدلی وي ، خو په خپل وار دغه اداره زموږ د ډرامې په وده کې ښه برخه اخلي ، اما کله چې دغه اداره ړنګيږي زموږ په ملي ډرامې يې اغيزه خورا بده وي .

په همدې کال ۱۳۴۸ هـ ل کې زموږ د ډرامې روان کاروان په ټپه دريږي ، په ځای يې ځو خصوصي ننداري ( صحنې)

ښه زور اخلي . ددې کال په اوږدو کې په هيواد کې (۲۷) صحنې دفعاليت جواز ترلاسه کوي .

صحنې نه يواځې داچې دکابل ننداري هرڅه په ټپه دروي ، بلکې تاوېې هرات ، کندوزاو مزارننندارو ته هم رسي اوپه لنډه موده کې ددغو ننندارو ورونه هم پوري کيږي.

دکابل اوهرات ننداريې دفعاليت په تېپه دريده دهيواد ډير لوبغاړي ډايرکتران ، ډرامه ليکوونکي او د ډرامې دچارو نور تنظيموونکي اړباسي چې نورو مشاغلو ته اوړې ورکړي ، آن ځينې داسي کسان :احمد شاه علي ، حميد جليا . رحمت الله انصاري ، محمدي شفا ) چې په بهر کې دډرامې په برخه کې له اکادميکو زده کړو نوي راګرځيدلي وو، نه توانيږي چې زموږ دملي ډرامې دبډاينې په پروسه کې خپلې زده کړې وکاروي ، نو له بده مرغه نورو چارو او مشاغلو ته اوړه ورکوي .

خو له يو نيم کلن ځنډ وروسته چې محمود حبيبي داطلاعاتواوکلتور وزير ټاکل کيږي .، تياتر او موسيقی ته بيا څه ناڅه پام را اړول کيږي . په همدې موخه داطلاعاتواو کلتور وزارت په چوکاټ کې دښاغلي خيال په مشرۍ دثقافت او هنر په نامه يو نوي تشکيل جوړيږي . ددې تشکيل په هڅونه اولارښوونه له تياتره ګوښه شوي لوبغاړي بيرته تياتر او ډرامې ته مخه کوي او په لنډه موده کې ګڼې بهرنۍ ډرامې په پښتو او دري ژباړي اوبيايې ننداريې ته برابروي .

دهنراوثقافت اداره خپل لومړنی فعاليت په يوه هنري پروګرام چې د (( دهنر شپه )) نوميږي ، پيلوي په دغه پروګرام کې له فرانسې ژباړل شوي <u>دوه پيسه</u> (( وخت پيسي دي )) دري او <u>غاښ جوړونکی</u> (( پښتو )) ننداريې ته وړاندي کوي ، له دې وروسته دروسيې دوتلي ليکوال ګوګول دمفتش ډرامه بيا له سره ښوول کيږي .داډرامه دليدونکودشميراوګټې ( ۳۵۰۰۰۰ ) افغانۍ له مخي ريکارډ ټينګوي .

دثقافت اوهنر بله لاسته راوړنه دخوا ښې ډرامه ده ،چې نه يواځې په کابل کې بلکې زينب ننداريې ، بلخ،ناشر او کندز ننداريې کې هم د ډرامې دمينه والو هنرې تنده خړوبوي او لږه موده وروسته يې سرتاجکستان ته رسي اوهلته يې هم تاجکان په ليدو نه مړيږي .

دثقافت اوهنر دا دارې يو بل ښه خدمت داهم وچې په خپل وار يې دآرډراماتيك كورس جوړكړچې دخپل موجوديت په موده كې

يې زموږ دملي ډرامې ګڼ مجرب لوبغاړي وروزل خو كله ،چې ښاغلی محمود حبيبي له وزارته لرې شي تياتر او تياتري هڅې بيرته ورو ورو په ټپه ودرول شي .

په ۱۳۵۰ كې دګلونوانسامبل په نامه يوه اداره جوړيږي چې ټوله پاملرنه موسيقۍ او اداري چارو ته رااړوي او دچارو مسوولين تياتر ته ښه پوره شا وراړوي .

په ۱۳۵۱كال كې دثقافت اوهنر اداره وويشله شي اوافغان ننداره په اطلاعاتو او كلتور وزارت كې په يو خپلواك ارګان اوړي .

دافغان ننداري خپلواكه تشكيل ددې اداري په كار اوفعاليت ښه اثر پريباسي . افغان ننداري په لنډه موده كې ګڼې ننداري راوباسي .

دغه اداره چې مشر يې فيض محمدوي ،لومړی دسيد مقدس نګاه اثر ((كچري قروت )) ډرامه چمتو كوي ، په دې پسې خپل دويم محصول ۱۳۵۲ (( څو ك قاتل دی ؟)) ، دربيم محصول (( هر څوك چې لومړي وار وګټې كورته يې وړي)) او څلورم (( پرجيره)) يو په بل پسې ننداري ته وړاندې كوي .

د ۱۳۵۲هـ ل دچنګاښ په ۲۶مه كله چې شاهي نظام ړنګ او ځای يې جمهوري نظام ونيسي ، سره له دې چې داطلاعاتواو كلتور نوی وزير پوهاند ډاكتر نوين ددې وزارت لپاره وړسړی نه و اوكومه روښانه پاليسي هم دخپل وزارت لپاره نه جوړوي ، بيا هم تياتر او تياتري هڅې نه درول كيږي.

(( درې تابلو )) دجمهوريت لومونۍ ننداره ده چې له درې پيسونو وار خطا خسر د چيخوف ليکنه او درشيد پايا ژباړه او ډايرکت وي (( ۷۱۹) خونه او واده جادو کوي جوړه وي .

لومړنۍ ډرامه دعبدالحق واله ژباړه او دويمه داستاد بيسد ليکنه او دايرکت و .

دپنځوسمې لسيزې ۱۳۵۴ هـ ل کال زموږ په ډرامه کې ترټولو ښه کال وي ، چې د ډرامو دڅومره والي ( کميت ) او څنګه والي ( کيفيت ) له کبله يې ښه کال بللي شو .

په ۱۳۵۴کې دمصردسترليکوال توفيق الحکيم د(( دسولې غږ )) او مرحوم منان ملګري دوه بنې نندارې ته وړاندي شوي دي د پنځوس کلونو تر ټولوډيره مشهوره ډرامه چې دليدونکو شمير يې له(۵۱۰۰۰) خورا اوچت و ، د(( ټک او ټکمار)) ډرامه ده چې مهدي دعاګوي اوحميد جليا په ګډه کښلې او مرحوم جليا يې د ډايرکت چارې سرته رسولي دي .

د ۱۳۵۷ دثور اوومه نيټه چې د افغانستان په معاصر تاريخ کې ديوې لويې غميزې لوی باب جوړوي ،هسي چې زموږ دوګړو په اقتصادي ،ټولنيز ،سياسي ..... ژوند خپلې ژورې اغيزې شيندي زموږ په کلتوري بنسټونو هم خپله ژوره اغيزه شيندي ،چې زموږ دملي ډرامې مضمون تر ډيره شعاري اوسياسي ګرځوي ، خو له دې ټولو خبرو سره، سره چارواکي د ډرامې غوړيدو ته ښه پوره پاملرنه رااړوي .

له دغه بدلونه لږ څه وروسته دفرانسې دنامتو ليکوال اوژن يونسکو اثر ((نن شپه پاچا مري )) ژباړه او ډرامه کيږي، په دې پسې داعظم سيستاني ((درېيمه ضربه )) چې ښاغلي بيسد يې د ډايرکت چارې په غاړه اخلي ،همدارنګه په بل کال (۱۳۵۸) دغه ډرامې يوه په بله پسې ښوول کيږي .

دمرحوم عبدالقادر لمر( ځنځیرونه مات شول ) دحمید جلیا په ډایرکت ، داعظم سیستاني

دسولې او داسدالله حبیب (خشم خلق) ......

په ۱۳۵۸ کې یوبل ښه ګام له زیاتو کلونو وروسته پورته کیږي اوهغه بیا دآرت ډراماتیك کورس جوړیدل وي .

د ۱۳۵۸ هـ ل له نیمایې وروسته ځیني مشهورو ډرامو لکه : د((بریښت ،ارباب پونتیلا او نوکریې مائي)) دجان محمد پلارسپیدې وچاودیدې، دمولیر اجباري طبیب او دمرحوم منان ملګري سیاسي مداري هم د ډرامو دمینه والو هنري تنده ماته کړه .

په ۱۳۵۹ کې چې مرحوم حمید جلیا بیا دتیاتررئیس شي لومړنۍ هڅه یې دکوچنیانو دتیاتر جوړیدل،جوړوي .

شپیتمه لسیزه زموږ د ډرامې اوهنر دپرمختګ په پروسه کې ځانګړی ځای لري ، په همدې لسیزه کې زموږ تیاتر ددې جوګه کیږي چې لوبغاړي نه یوائې په خپل هیواد کې دهنر مینه وال په ځان رامات کړي بلکې فعالیت یې په نورو هیوادونو کې هم خلك په ځان رامات کړي .

په ۱۳۶۴کې بیا زموږ هنري ډله په تاشکند ،ترکمنستان او مسکوکې دشب اوشلاق ، دمورحماسه ،قاعده او استثناه ډرامې ننداریې ته وړاندې کوي .

په شپیتمو کلونو کې همدا شان ځینې نور نړیوال شهکارونه لکه : دجان پال سارتر ، تور او سپین اودبرښت ((مور))) هم ننداریې ته وړاندي شول ،چې خورا ښه هر کلی یې وشو.

په همدې لسیزه کې وه چې دلومړي ځل لپاره زموږ په ملي تلویزیون کې دتلویزیوني تیاتر لړۍ داستاد لطیفي په اثر : (هغه مي پلار نه دی) پیل شو ، دویم تلویزیوني تیاتر هم دښاغلي سیستاني اثر (( ځمکه ده )) .

له دې وروسته نورې ګڼې ننداري لکه : دمرحوم منان ملګري (( کله چې مديرموقوف شي )). او يا (( وطن اوکفن )) ....او نورې ننداري هم وړاندي شوي ، خودنجيب الله درژيم په نړيدو زموږ ملي تياتر نه يوائې پرله پسي ځوکلونه هيڅ فعاليت ونه کړ ، بلکې دتياتر موجوده ودانۍ هم دجګړو له امله له خاورو سره خاورې شي .